# د حج او عمرې لارښود

لیکوال:
الحاج عزیز محمد (پردیس)
د میدان شهر د خروټو د کلي اوسیدونکی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د کتاب ځانګړنې**

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د حج او عمرې لارښود |
| لیکونکی: | الحاج عزیز محمد "درویش" |
| کمپوز او ډیزاین: | محمد جواد "مبارز" |
| د چاپ کال: | ۱۳۹۶ هـ ش |
| د چاپ شمیر: | (۱۰۰۰) جلده |
| شکرانه: | (   ) افغانۍ |
| ټلیفون نمبر: | ۰۷۰۷۸۵٤۹٤۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب لړليک

ځو لنډ هدايتونه ........................................................ ۱
د عمرې ادا کولو طريقه ........................................................ ۲
د طواف شروع ........................................................ ۳
د حجر اسود د مچې کولو طريقه ........................................................ ۴
د فرض حج د آدا کولو طريقه ........................................................ ۸
په عرفات کې د وقوف دعاګانې ........................................................ ۱۰
د عرفات شريف نه مزدلفې شريفې خواته حرکت کول ........................................................ ۱۳
مزدلفې شريفې نه بيرته مينا شريفې ته حرکت کول ........................................................ ۱۴
د قربانۍ وروسته حلق او قصر کول ........................................................ ۱۵
د طواف زيارت ادا کول ........................................................ ۱۷
د طواف زيارت طريقه ........................................................ ۱۷
د حج فرائض ........................................................ ۲۰
د حج مسنونه طريقه دا سې ده ........................................................ ۲۱
د حج مستحبات ........................................................ ۲۲
د دعا د قبليدو مقامونه ........................................................ ۲۳
په هغو شيانو چې دَم واجب ګرځي ........................................................ ۲۴
د مدينې منورې او د نبي کريم(ص) زيارت کول ........................................................ ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## ځو لنډ هدايتونه

۱. کوم وخت چې حاجي د حج يا عمرې آدا کولو لپاره ميقات کې غسل وکړي، احرام وتړي، دوه رکعته نفل آدا کړي، نيت وتړي او درې کرته يې تلبيه شريفه ووايي، حاجي محرم ګرځي، يعنې ځو حلال او ځو مباح شيان ورباندې حرام شي.

۲. نور نو ټول مناسک د حج په نارينه او زنانه يو قسم دي صرف د مردانه احرام دوه سپين ځادرونه دي، او د ښځې لپاره ګنډل شوي ساده جامې او يو حجاب نازک په مخ خپروي.

۳. بل دا چې ښځه به د حيض او نفاس حالت کې بدون طواف او سعي نه به ټول مناسک ادا کوي.

۴. ښځه په اضطباع، رَمل او سعيه کې د دوو شنو ميلو ترمنځ په پهلوانۍ رفتار نکوي، عادی به رفتار کوي.

۵. ښځه بيروبار کې حجر استود نه مچولای شي او نه يې په لاس مسح کولای شي.

۶. ښځه بيروبار کې خپل نفل مقام ابراهيم سره نه آدا کوي، بلکه يوه ګوشه او فرصت ځای کې به يې ادا کړي.

۷. ښځه بيروبار کې د صفا او مروا غونډيو ته نه خيژي، يوه ګوشه کې به د ريږي خپله دعا به کوي.

نوټ: حاجي به ميقات کې پخوا د غسل او احرام تړلو نه خپل سنت، د بغل او نامه لاندې ويښتان اخلي او نوکان به هم اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمرې ادا کولو طريقه

د عمرې ادا کول د نيم حج ثواب لري، حج اصغر هم ورته وايي، او يوه واجب طريقه هم ده. حاجی مخکې لدې چې مکې شريفې ته داخل شي اول به ميقات (استوګنځای) کې غسل يا اودس وکړي، ليکن غسل بهتره طريقه ده، متصل به خپل احرام وتړي، بيا به دوه رکعته نفل ادا کړي، د عمرې نيت به وتړي (اَللَّهُمَّ اِنِّى اُرِيدُ العُمْرَةَ فَيَسِّرهُمَا لِى وَ تَقَبَّلْهُمَا مِنِّى).

ترجمه: اې الله جل جلاله ! ما د عمرې د ادا کولو اراده کړې، ماته يې آسانه کړې، او راته قبوله يې کړې، بيا به درې وارې دا تلبيه شريفه ووايي «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لاَ شَرِيكَ لَكَ»

په تلبيه ويلو حاجي محرم ګرځي، نور به حاجي د مکې شريفې خواه حرکت وکړي، تلبيه به وايي کله چې په مکه شريفه يې سترګې ولګيدې دا دعا به ووايي (اللّٰهُمَّ اجْعَل لِى بِهَا قَرارًا وَرْزُقْنِى فِيهَا رِزْقًا حَلاَلاً) بيا به خپله تلبيه وايي ، کله چې مسجد الحرام ته ورسيده نو د باب السلام په دروازه به په ښۍ پښه داخل شي او دا دعا به ووايي (بِسمِ اللّٰهِ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَام عَلَى رَسُول اللّه رَبِّ اغْفِرْلِى ذُنُوبِى وَافْتَحْ لِى أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ) بيا به متصل بيت الله ته وګوري او دا به ووايي (اَللّٰه اَكْبر لَا اِلَهَ اِلَّا اللّٰه). بيا به نو مکې شريفې ته ګوري دا دعا به وايي (اَللَّهُمَّ زِدْ هَذَا البَيتِ تَشْرِيفًا وَتَعْظِيمًا وَ تَكْرِيْمًا وَمَهَابَتًا وَ زِدْ مِنْ شَرَفِه وَكَرَمِه مِمَّنْ حَجَّهُ وَعْتَمَرهُ تَشْرِيفًا وَتَكْرِيْمًا وَتَعْظِيمًا وَبرًّا اَللَّهُمَّ اَنْتَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



السَّلَام وَمِنْک السَّلَام فَحَيِّنَا رَبَّنَا بِالسَّلَام) بیا به درود شریف ووایي او خپله دعا به وکړي.

کله چې حاجي مسجد الحرام ته داخل شو نو تحیه المسجد به نکوي، بلکه تحیه الطواف به وکړي او که چیرې جماعت تیار وو او حاجی نه جماعت تیریده ورته بهتره دا ده چې دې د هغه وخت خپل لمونځ په جماعت سره وکړي، دا ځکه چې یو لمونځ بیت الله کې د یو لک نورو لمونځونو برابر دی، او ثواب یې ډیر دی.

## د طواف شروع

کله چې حاجي طواف شروع کوي اول به خپل نیت داسې وتړي، (اَللَّهُمَّ اِنِّی اُرِيدُ طَوَافَ بَيتِک الْمُحَرَّمِ سَبعَةَ اَشوَاطٍ فَيَسِّرهُ لِی وَتَقَبَّلْهُ مِنِّی) ترجمه: د خانه کعبې نه اووه ځله چاپیره نیت مې وکړ، زما لپاره آسانه کړه او زما نه یې قبول کړه.

بیا به حاجي خپله اوږه وخوځوي، د حجر اسود مقابل کې به ودریږي نو دواړه لاسونه به تر غوږونو پورې اوچت کړي، او دا دعا به ولولي «بِسمِ اللهِ اَللهُ اَکْبَر لَا اِلَهَ اِلَّا الله وَلِلّٰهِ الحَمْد وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَام عَلَی رَسُول اللَّه اَللَّهُمَّ إِيمَانًا بِكَ وَوَفَاءً بِعَهْدِكَ وَاتِّبَاعًا لِسُنَّةِ نَبِيِّكَ مُحَمَّدٍص» د دعا وروسته به خپل لاسونه ښکته کړي د حجر اسود استلام به وکړي استلام دیته وایې چې د خپلو دواړو لاسونو ورغوی به مخام حجر اسود ته او د لاسونو شا به خپل ځان ته مخام ونیسي داسې خیال به کوي لکه څنګه چې زما لاسونه په حجر اسود ایښي دي، او دا دعا به ووایي «اَللّٰه اَکْبَر لَا اِلَهَ اِلَّا الله وَالحَمْدُ لله وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَام عَلَی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سَیِّدِنَا مُحَمَّد مُصطَفی (ص)»، بیا به خپل دواړه لاسونه مچې کړي، او که فرصت وو، بیروبار نه وو نو حجر اسود به داسې مچوي.

## د حجر اسود د مچې کولو طریقه

حاجی به اول خپل دواړه لاسونه په حجر اسود اسې ږدي چې د لاسونو ورغوي يې پوره په حجر اسود راشي بیا به مخ او اوچولی د لاسونو منځ کې ږدي حجر اسود به په تعظیم او آدب سره مچي کړي، دا دعا به ووایي «اَللّٰه اَکْبَر لَا اِلَهَ اِلَّا اللّٰه وَالحَمْدُ لله وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَام عَلَی سَیِّدِنَا مُحَمَّد(ص)» یا به خلص «بِسم الله والله اَکْبَر وَللّٰهِ الحَمْد» بیا به خپل لاسونه پورته کړي، او د بیت الله د دروازې ښی خوانه به خپل طواف شروع کړي، چې دا طواف په نامه د طواف قدوم یادیږي، که په دې طواف قدوم پسې د حاجي د سعي اراده وي نو دا طواف به په اضطباع سره یعنې حاجې به د احرام ځادر ښی تخرګ لاندې تیر کړي او په چپه اوږه به یې اچولای وي، نو د دې طواف اولي درې پیرې چکرونه به په (رَمَل) یعنې لږ په چالاکی سره به خپل قدمونه نږدې نږدې په قوت سره د پهلوانی په شکل اخلي او خپلې اوږې په خوځوي، او که چیرې دې طواف پسې د حاجي د سعي اراده نه وي نو دا طواف به بې رَمَل او بې اضطباع سره کوي، او د طواف په شروع کې به تلبیه بندوي، حطیم شریف به طواف کې راولي، کله چې رکن یماني ته حاجي ورسیدو، حاجي به په رکن یمانې باندې دواړه لاسونه یا دا چې تنها ښی لاس ږدي، مسح کوي به یې مچول یې جواز نلري او که چیرې بیروبار وو بیا نو رکن یماني ته نه لاس اوچتول شته او نه به اشاره کوي، تیریږي به کله چې حاجي حجر اسود ته ورسیدو د حجر اسود استلام به وکړي لاس به بیا نه ورته اوچتوي دا ځکه چې اول کې یې لاسونه اوچت کړي دي، بیا د لاسونو اوچتول جواز نلري، نو دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي يو چکر پوره شو همداسې به حاجي اووه چکرونه پوره کړي چې يو طواف يې پوره شي.

په (۸) وار به د حجر اسود استلام وکړي بيا به مقام ابراهيم خواته روان شي، دا دعا به ووايي (وَالتَّخِذُوا مِنْ مَّقَامِ اِبرَاهِيمَ مُصَلًّى) د مقام ابراهيم او بيت الله ترمنځ به خپل دوه رکعته نفل داسې ادا کړي، په اول رکعت کې به د الحمدلله پسې سورت قُل يَا اَيُّهَا الْکَافِرُون او په دوهم رکعت کې به الحمدلله پسې سورت اخلاص يعنې قُلْ هُوَ اَللهُ اَحَد ووايي.

که چيرې بيروبار وو نفل هلته نشو آدا کولای بيا به خپل نفل حطيمشريف کې آدا کړي او که هلته هم بيروبار وو نفل يې چې د بيت الله شريف هر ځای کې آدا کړل ورته جواز لري.

د نفل آدا کولو وروسته به دا دعا چې خپله آدم عليه السلام لوستلې وه ووايي (اَللَّهُمَّ اِنَّک تَعْلَمُ سِرِّى وَعَلَانِيَتِى فَاَقْبِل مَعذَرَتِى وَتَعْلَمْ حَاجَتِى فَاَعْطِنِى سُؤالِى وَتَعْلَم مَا فِى نَفسِى فَاغْفِرلِى ذُنُوبِى اَللَّهُمَّ اِنِّى اَسْئَلُک اِيمَانًا يُباشِرُ قَلْبِى وَيَقِيناً صَادِقًا حَتَّى اَعْلَمُ اَنَّه لَا يُصِيبَنِى اِلّا مَا کَتَبْتَ لِى رَاضِيًا بِمَا قَسَمْتَ لِى يَا اَرحَمُ الرَّاحِمِين). بيا به حاجي ملتزم شريف ته ځي چې ملتزم شريف د بيت الله د دروازې او حجر اسود ترمنځ قرار لري، حاجي به خپل دواړه لاسونه سينه او وچولی به د بيت الله په ديوال په ولاړې وچسپوي، په ډيره عاجزی به د خپلې دعا او مغفرت غوښتنه الله جل جلاله نه وکړي، ځکه چې دا ځای د دعا د قبليدو مقام هم دی، او يوه مسنونه طريقه هم ده.

بيا به حاجي د آب زم زم خواته لاړ شي، د آب زم زم اوبه به په درې دمو کې وڅکې کله چې سيرابه شو لږ غوندې به په خپل ځان د تبرک لباره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپاشي، بیا به دا دعا ووایي «اَللَّهُمَّ إِنِّی أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَرِزْقًا وَاسِعًا وَعَمَلاً صَالِحًا وَشِفَاءً مِن كُلِّ دَاء» دلته هم دعا قبلیږي او سنت طریقه هم ده.

حاجي به نور د حجر اسود استلام کوي، په چپه پښه به د صفا خواته ووځي دا دعا به ولولي (بِسمِ اللهِ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَام عَلَى رَسُول اللَّه اَللَّهُمَّ اغْفِرْلِی ذُنُوبِی وَافْتَحْ لِی أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ) کله چې صفا ته ورسیدو یا ورنږدې شو نو دا دعا به ولولي (اَبْدَءُ بِمَا بَدَءَ اللّٰه بِه اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَائِرِ اللّٰه) بیا کله چې حاجي صفا ته داخل شو، د صفا په غوندۍ به دومره پورته وخیژي چې د پنجرو نه ورته بیت الله معلوم شي همدلته به مخ په قبله دریږي دا دعا به ووایي «اَللَّهُ أَكْبَرُ، اَللَّهُ أَكْبَرُ، وَلِلَّهِ الْحَمْد، اَلْحَمْدُ لِلَّهِ مَاهَدَانَا، اَلْحَمْدُ لِلَّهِ مَااَولَانَا، اَلْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى مَااَلْهَمْنَا، اَلْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِی هَدَانَا لِهَذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِیَ لَوْلَا اَنْ هَدَانَا اللّٰه، لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَیٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَه صَدَقَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدُهُ، وَاَعَزَّ جُنْدَهُ وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ وَلَا اِلَهَ اِلَّا اللّٰه وَلَا نَعبُدُ اِلَّا اِیَّاهُ مُخلِصِینَ لَهُ الدِّینَ وَلَو كَرِهَ الكَافِرُون، اللّٰهُمَّ كَمَا هَدَیْتَنِی لِلاِسْلَام اَسْئلُک اَنْ لَا تَنزِعْهُ مِنِّی حَتَّى تَوَفَّنِی وَاَنَا مُسلِمًا، سُبحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لله لَا اِلَه اِلَّا اللّٰه وَاللّٰه اَكْبَر وَلَا حَولَ وَلَا قُوَّة اِلَّا بِااللهِ العَلِیِّ الْعَظِیم».

(اَللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِه وَ اَصْحَابِه وَ اِتِّبَاعِه اِلَى یَومِ الدِّین، اَللَّهُم اغْفِرلِی وَلِوَالِدَیَّ وَلِشُیُوخِی ولِلْمُسْلِمِین اَجْمَعِین وَسَلامٌ عَلَى

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْمُرْسَلِين وَ الْحَمْدُللهِ رَبِّ العَالَمِين.)

او که چیرې حاجې دا دعا نشو لوستلای هره دعا یې چې زده وه ودې لولي کوم فرق نلري، لیکن د تلبیه ویل ورسره شرط دي.

بیا به د صفا غوندۍ نه کوز شي په عادي رفتار به د مروا په طرف حرکت وکړي، کله چې شنې میلې ته ورسیدو تر بلې شنې میلې پورې به خپل قدمونه نږدې نږدې په قوت سره د پهلوانۍ په شکل اخلي او خپلې اوږې په خوزوي، اما ښځې به په عادي رفتار سره ځي، کله چې د مروا غونډۍ ته ورسیده نو د مروا په اوله یا دوهمه پټه به ودیږي بیا به ښۍ خواته کوز شي مخامخ به په قبله ودریږي، خپل دواړه لاسونه به اوچت ونیسي لکه څنګه چې ده د صفا په غونډئ دعا لوستلي وي، دلته به یې هم لولي، چې دا یوه مسنونه طریقه ده او دا د سعي یوه دوره شوه، د دعا ویلو وروسته به د صفا خواته حرکت وکړي کله چې دلته هم شنې میلې ته ورسیده تر بلې شنې میلې به د پهلوانۍ په شکل ځي او ښځې به په عادي رفتار ځي، کله چې د صفا غوندۍ ته ورسیده د غونډۍ پر سر به لنډه دعا وکړي همداسې به نورو اووه دورو کې کې خپله دعا لنډه لنډه کوي، دا یې د سعي دوهمه دوره شوه، همداسې به خپلې اووه دورې پوره کړي.

خلاصه چې سعي د صفا غوندۍ نه شروع او په مروا باندې ختمیږي، چې دا یوه واجب طریقه ده کله چې د سعي اووه دورې حاجې پوره کړې بیا به د مطاف غاړې ته یعنې د حرم په هر ځای کې چې وي خپل دوه رکعته نفل آدا کړي او دعا به وکړي.

حاجې کله چې د نفلو نه فارغ شو دفعتًا به حَلق او قصر کوي یعنې نارینه به خپل سر تراش کوي او ښځه به د سر د کوڅیو نه د لاس د ګوتو د یوه بند په اندازه خپلو کوڅیونه ویښتان قیچي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې حاجي قصر او حلق نه فارغ شو دفعتا به خپل احرام باسي، او خپلې عادي جامې به اغوندي، نور به تر اتمې ورځې د حج د میاشتې پورې خپل عبادتونه، طوافونه او زیارتونه په عادي جامو کې کوي.

## د فرض حج د ادا کولو طریقه

کله چې حاجي د حج د میاشتې په اوومه ورځ د ماسپخین لمونځ بیت الله شریف کې ادا کړو او خطبه یې واوریده، سبا ته به په اتم ذوالحجې د لمر ختلو وروسته د تمتع حج لپاره چې یو فرضي حج دی، حاجې به میقات (استوګنځای) کې اول غسل یا اودس وکړي لیکن غسل بهتر دی.

د غسل وروسته به خپل احرام وتړي، کله یې چې احرام وتړو نو دوه رکعته نفل به ادا کړي،د نفل آدا کولو وروسته به خپل د فرضي حج نیت داسې وتړي (اَللّٰهُمَّ اِنِّی اُرِیدُ الحَجَّ فَیَسِّرهُ لِی وَ تَقَبَّلْهُ مِنِّي).

ترجمه: ای الله جل جلاله ! ما د حج اراده کړیده نو ماته یې آسانه کړه او له مانه یې قبوله کړه، کله چې یې نیت وتاړه متصل به درې وارې تلبیه «لَبَّیْکَ اللّٰهُمَّ لَبَّیْكَ، لَبَّیْكَ لاَ شَرِیكَ لَكَ لَبَّیْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لاَ شَرِیكَ لَكَ» ووایي، حاجي محرم ګرځي.

نوټ: په فرضی حج کې غسل کول، احرام تړل، نفل کول، نیت کول او د تلبیه ویل دا ټول د حج په فرضیاتو کې راځي.

بیا به حاجي د منی شریفې خواته حرکت کوي کله چې مینا شریفې ته ورسیده، مینا کې به خپل د ماسپخین، مازیګر ، ماښام او ماخوستن لمونځونه په جماعت سره د خیف په مسجد کې ادا کړي او که بیروبار وو په هر ځای کې اوسي هلته به یې ادا کړي، شپه به آرامه په مینا شریفه کې تیره کړي، سبا به چې د عرفات ورځ ده، خپل د سهار لمونځ یې چې آدا کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ غونډې وروسته کله چې لمر د شبير پر غره ولګيده، د خيف جومات سره د ضب ضب خوا کې به مينا شريفې نه د عرفات خواته روان شي، ليکن تلبيه به تل وايي چې دا يوه مستحبه طريقه ده.

کله چې د حاجي سترګې په عرفات کې د جبل الرحمت په غونډۍ ولګيدې، نو دا دعا به ووايي (اللّٰهُمَّ اِلَيْکَ تَوجَّهْتُ وَعَلَيکَ تَوَکَّلْتُ وَوَجهُکَ اَرَدتُ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي وَتُبْ عَلَيَّ وَعْطِنِي سُؤالِي وَوَجِه لِيَ الخَيرَ حَيثُ تَوَجهةُ، سُبحَان اللهِ وَالحَمْدُللهِ وَلَا اِلَهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَکْبَر) بيا به متصل خپله تلبيه شروع کړي نو عرفات ته به داخل شي.

يادونه: نهم د ذوالحجې نه مخکې يا په همدې ورځ د لمر ختلو مخکې عرفات ته داخليدل خلاف سنت دي، حاجي چې عرفات ته داخل شو عرفات کې به تر زوال پورې خپل احتياج لکه خوراک څښاک، غسل يا اودس پوره کړي، بيا به خپل ځان مسجد نمره ته رسوي ځای به نيسي هلته به خپل د ماسپخين او مازيګر لمونځونه په يوه بانګ (اذان) او دوه اقامتونو سره په جماعت کبرا سره آدا کوي، دلته به مقيم او مسافر دواړه په يو شان سره لمونځونه کوي کله چې مؤذن آذان وويل، بيا به امام د جمعې په شکل دوه خطبې ووايي، د حج احکام به بيان کړي چې دا خطبه سنت طريقه ده.

د خطبې وروسته به مؤذن تکبير وايي د ماسپښين لمونځ به په جماعت سره آدا کړي، د ماسپخين د فرضو وروسته به تکبير تشريق چې واجب طريقه ده، ووايي؛ ليکن دلته سنت او نفل نه ادا کيږي بيا به مؤذن تکبير ووايي د مازيګر لمونځ به په جماعت سره آدا کړي، البته د ماسپښين په وخت د لمانځه د ادا کيدو وروسته به د عرفات د حصاريدو (وقوف) لپاره به تعيين شوي ځای چې جبل الرحمت سره نږدې په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کې چې تورې تیګې فرش شویدي ځی به، دا ځکه چې هغه ځای د نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم د خیمې مبارکې ځای وو او که هلته ځای نه وو بیروبار وو مسجد سخره ته چې ګیرچاپیره یې دیوال احاطه شوی دی هلته به لاړ شي، او که هلته ځای نه وو نو د عرفات په هر ځای کې چې یې زړه غوښته هلته به وقوف وکړي، لیکن بطن عرفه کې بیا هلته وقوف جواز نلري، بطن عرفه د عرفات غرب خواته پروت دی، بل دا چې د جبل الرحمت پورته به هم نه خیژي.

نوټ: وقوف په جمعه آوري سره کیږي، په تنهایي وقوف مکروه ده، په وقوف کې به حاجي مخامخ په قبله دریږي، په لاره کې وقوف جواز نلري د مجبوریت وخت کې وقوف، ناسته او ملاسته هم جواز لري.

## په عرفات کې د وقوف دعاګانې

په وقوف د عرفات کې د حاجي څه قسم دعاګانې چې زده وي کولای یې شي، لیکن ساعت په ساعت به تلبیه وایي، توبه او استغفار به هم ډیر وایي.

که چیرې حاجي کولای شي او د وسه یې پوره وي دا دعا چې خپله نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم لوستلي ده ویل یې ډیر ثواب لري «لَا إِلَهَ إلا اللَّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اَللَّهُم لَک الحَمدُ كَالَّذِى تَقُولُ خَيرًا مِمَّا نُقُولُ، اَللَّهُمَّ لَک صَلَاتِى وَنُسُكِى وَمَحيَاىَ وَمَمَاتِى وَإِلَيْک مَآبِىْ وَلَک رَبِّىْ تَرَاثِىْ، اَللَّهُمَّ اِنِّى اَعُوذُبِک مِن عَذَابِ الْقَبْرِ وَوَسْوَسَةِ الصَّدْرِ وَ شِتَاتِ الْاَمْرِ، اللّٰهُمَّ اِنِّى اَسْئَلُک مِنْ خَيرِ مَا تَجِيئُ بِهِ الرِّيحُ وَ اَعُوذُبِک مِنْ شَرِّ مَا تَجِيئُ بِهِ الرِّيح، اللّٰهُمَّ اجْعَلْنِى فِىْ قَلْبِى نُوْرًا وْفِى سَمْعِى نُورًا و فِى بَصَرِى نُورًا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللّٰهُمَّ اشرَحْ لِى صَدْرِى وَيَسِّرْلِى اَمْرِى».

په بل روايت کې بيا ويل شوي دي چې، حاجي به مخامخ په قبله دريږي په وقوف کې به تلبيه، تهليل، تسبيح، تکبير، استغفار، درود شريف او د قرآنکريم تلاوت ملا امام مخکې وي نور به وروسته ولاړ وي، ټولو به په جمع آوري صورت سره خپل لاسونه پورته نيولي وي، په اول او آخر کې به درود شريف لولي او دا دعاګانې به وايي لکه:

۱- درود شريف: «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ»

۲- تلبيه: «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لاَ شَرِيكَ لَكَ»

۳- تکبير: «اَللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلا اللّٰهُ وَاللّٰه اَكْبر، اللّٰه اَكبَر وَللّٰهِ الْحَمد»

۴- تسبيحات: «سُبحَان اللّٰه وَالحمْدُللّٰه وَلَا اله اِلّا اللّٰه وَاللّٰه اَكْبَر وَلَا حَولَ وَلَا قُوَّة اِلّا بِااللّٰهِ العَلِيِّ الْعَظِيم»

قرآني دعاګانې:

۵- «اللّٰهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِى الدُّنيَا حَسَنَةً وَ فِى الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَبَ النَّارِ»

۶- «رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ»

۷- «رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- «رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدْتَنَا عَلَى رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ».

۹- «اَللّٰهُمَّ احتَسِب حِسَابًا يَّسِيرًا، حَسْبُنَا اللّٰه وَنِعمَ الْوَكِيل نِعمَ المَولَى وَنِعمَ النَّصِير، غُفرَانَک رَبَّنَا وَاِلَيک المَصِير».

۱۰- «اَللّٰهُمَّ اَعِنِّى عَلَى ذِكْرِک و شُكْرِک وَحُسْنِ عِبَادَتِک».

۱۱- «اَللّٰهُمَّ احْفِظنَا وَاَنتَ خَيرُ الحَافِظِينَ، اَللّٰهُمَّ انْصُرْنَا وَاَنْتَ خَيرُ النَّاصِرِين، رَبَّنَا عَلَيْک تَوَكَّلْنَا وَاِلَيْک اَنَبْنَا وَاِلَيک المَصِير».

۱۲- درود شريف: «اَللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَبَارِک وَسَلِّم»

په بعضې رواياتو کې راغلي چې حاجي به مخامخ په قبله ولاړ وي، لاسونه به يې پورته نيولي وي:

۱) سل واري به دريمه کلمه لکه «سُبحنَ اللّٰهِ وَالحَمدُ للّٰه وَلَا اِلهَ اِلَّا اللّٰه وَاللّٰه اَكبَرُ وَلَا حَولَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ العَلِيِّ العَظِيمِ»

۲) سل واري به (قل هو اللّٰه احد ) ووايي،

۳) سل کرته به درود شريف ووايي.

وروسته به اعوذبالله، بسم الله، الحمد لله، آيت کرسي ووايي.

او که چيرې حاجي دا پورته دعاګانې نه شي لوستلای، نو کومې دعاوې يې چې زده وي ودې وايي، انشاء الله چې الله(ج) غفور او رحيم ذات دی، دعا به يې قبولې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عرفات شریف نه مزدلفې شریفې خواته حرکت کول

کله چې حاجي د عرفات د وقوف نه فارغ شو، مازیګر متصل د لمر د پریوتو سره به مزدلفې شریفې خواته حرکت وکړي، نور به عرفات کې نه معطل کیږي او که حاجي د لمر پریوتو وروسته بې له عذره عرفات کې معطل شي دم پرې واجب ګرځي.

په مزدلفه شریفه کې لږ غوندې په چالاکی سره رفتار کوي او که فرصت وو خیر دی په قراره به خپل رفتار کوي، کله چې مزدلفې شریفې ته داخل شو، غسل یا اودس به چې مستحبه طریقه ده، کوي. په مزدلفه شریفه ک هر ځای چې غواړي هلته به حصار شي، ببله وادي د محصر نه دا ځکه چې هلته وقوف جواز نلري.

په کوم ځای چې حاجي حصار شو، خپل سامان به کوز کړي، هلته به اول خپل د ماښام او ماخوستن مونځونو کوشش دې وکړي چې په مسجد مشعر الحرام کې، او که هلته بیروبارۀ نو د مزدلفې هر ځای چې وقوف وکړي هلته به خپل د ماښام او ماخوستن مونځونه په یوه آذان او یوه اقامت سره ادا کوي، هغه که په جمعه سره وي یا په انفرادي صورت وي. په دې مونځونو کې جمعه ضروري نده، په انفرادي صورت هم جواز لري، دلته به هم سنت او نفل نه کوي، ګرچه بعضې روایاتو کې راځي چې مزدلفه شریفه کې مونځ په جمعه کول یوه واجب طریقه ده.

حاجي کله چې د ماښام او ماخوستن د مانځه نه فارغ شو نور به تر صبح صادق پورې آرام وکړي، لیکن بهتره ورته دا ده دا ځکه چې دا شپه د لیلة القدر د شپې نه بهتره بلل شوې ده، او سنت طریقه هم ده د حاجي څومره چې دلاسه او قدرته پوره وي دا شپه به په عبادت او استغفار تیروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې صبح صادق شو حاجي به خپل د سهار مونځ په تیاره کې ادا کړي، د مانځه وروسته به د دوه رکعته نفلو د ادا کولو په قدر یا اندازه مخامخ په قبله په داسې حال چې لاسونه به یې پورته نیولي وي، تسبیح، تکبیر، تلبیه، دعا او استغفار په عاجزۍ سره ووایي.

## مزدلفې شریفې نه بیرته مینا شریفې ته حرکت کول

حاجي چې د صبح صادق وروسته خپل د سهار مونځ ادا کړو، او د دوه رکعتو نفلو د ادا کولو په اندازه چې وقوف وکړو، لږغوندې به معطل شي، کله چې لمر ختلو ته د دوه رکعتو نفلو په اندازه وخت پاتې شو حاجي به مزدلفې شریفې نه د مینا شریفې خواته روان شي، کله چې د محسر وادي ته ورسیده لدې ځایه به په چالاکۍ تیریږي، تلبیه به وایي.

یادونه: حاجي به د شپې پاتې کیدو وخت کې د مزدلفې شریفې د هر ځایه چې وي ځان سره به (۴۹ ) شګې د شیطانانو ویشتلو په خاطر ټولې کړي، او که یې د احتیاط په خاطر (۲۱ ) شګې نورې هم ټولې کړې چې ټولې (۷۰ ) شګې کیږي، بهتره ده.

او که فرضاً مزدلفه شریفه کې شګې دیاده ووتلې، بیا یې چې په هر ځای کې ټولوي فرق نلري.

حاجې کله چې مینا شریفې ته ورسیده هلته به د مینا شریفې په منځنۍ لاره خپل ځان جمرات اُخرا یعنې لوی شیطان ته ورسوي او هلته به ښي طرف د مینا شریفې خواته او کینڼ طرف به یې د بیت الله شریفې خواته کوي، بیا به یوه یوه شګه په مسواکي او غټه ګوته نیسي، اوه شګې به لوی شیطان ولي لیکن د اولې شګې په ویشتلو به تلبیه بندوي، او د هرې شګې په ویشتلو به (بِسمِ اللهِ اَللهُ اَکْبَر رَغْمًا لِشَّیْطَانِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَرَضِيًا لِلرَّحْمَانِ) ووايي.

نوټ: د شګو په ويشتلو به خپل لاسونه دومره پورته کوي چې تخرګ يې معلوم شي.

حاجي کله چې لوی شيطان (۷) شګې وويشت بيا به د شيطان ويشتلو وروسته د قربانۍ ځای ته ځي يا که وکيل يې ونيوه هم صحيح ده، کله چې قرباني وکړه لږ غوندې غوښه به خپل ځان سره اطاق ته راوړي، چې دا يوه مستحبه طريقه ده.

## د قربانۍ وروسته حلق او قصر کول

حاجي کله چې د لوی شيطان ويشتلو وروسته قربانۍ نه فارغ شو، مخ په قبله به کيني خپل سر به د ښي خوا نه تراش کړي، او ښځه به د خپل سر د کوڅيو نه د يو لاس د يوې ګوتې د يوه بند په اندازه خپل ويښتان قيچي کړي.

او نارينه به د بريتو او تخرګ ويښتان لرې کوي، نوکان به اخلي، بيا به خپل ويښتان او نوکان يوځای کې دفن کوي. د حجامت وروسته به دا دعا ووايي: (اَلْحَمْدُللّٰهِ الَّذِی وَقَضَی عَنَّا نُسكَنَا اَللّٰهُمَّ زِدْنَا اِيمَانًا وَيَقِينًا).

نور به حاجي خپل احرام باسي، خپلې عادي جامې به اغوندي، پس له دې حاجي ته کوم شيان چې احرام کې ورته حرام وو، نور ورته حلال شول، بېله خپلې ښځې سره جماع، مچول، لاس اچول او نور په شهوت سره عمل کول، که چيرې نارينه يا ښځې د پورته اعمالو نه يو بل سره وکړل په دواړو باندې دَم واجب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طواف زيارت ادا کول

کله چې حاجي د قربانۍ وروسته حَلق او قصر نه فارغ شو، احرام يې وويست، عادي جامې يې واغوستې، بهتره دا ده چې حاجي خپل طواف زيارت د ذوالحجې په (۱۰) تاريخ وکړي. او که فرصت ورته نه ؤ يا دا چې څه عذر يې درلوده، فرق نه کوي تر (۱۲) تاريخ د لمر پريوتو پورې ورته جواز شته چې خپل طواف زيارت وکړي.

## د طواف زيارت طريقه

که چيرې حاجي اول وخت کې طواف قدوم پسې سعيه نه وه کړې، نو په طواف زيارت کې به حاجي په اولو درې پيرو کې (رَمَل) يعنې د پهلوانۍ په شکل رفتار هم وکړي. که يې احرام تړلی وي يا يې ګنډل شوې جامې اغوستي وي، اضطباع که وکړي يا يې ونه کړي، فرق نلري.

او که چيرې حاجي په طواف قدوم کې خپله سعيه کړې وي، په طواف زيارت کې به حاجي اضطباع، رمل او سعيه نه کوي.

د طواف زيارت شروع کې به اول خپله تلبيه بندوي، بيا به مخامخ حجر اسود ته دريږي خپل د طواف نيت به داسې وکړي: (اَللّٰهُمَّ اِنِّى اُرِيدُ طَوَاف بَيتِک الحَرام سَبعَةَ اَشوَاطٍ فَيَسِّرهُ لِى وَتَقَبَّلهُ مِنِّى) ترجمه: اى الله(ج) ما د خانې کعبې نه (۷) ځله چاپيره نيت وکړ، نو ځما لپاره يې آسانه کړه، او زما نه يې قبوله کړه.

د نيت وروسته به خپل دواړه لاسونه تر غوږ پورې اوچت کړي، دا دعا به ولولي: «بِسمِ اللّٰهِ اَللّٰه اَكْبَر لَا اِلَهَ اِلَّا اللّٰه وَلِلّٰهِ الحَمْد وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَام عَلَى رَسُول اللّه اَللَّهُمَّ إِيمَانًا بِكَ وَوَفَاءً بِعَهْدِكَ وَاِتِّبَاعًا لِسُنَّةِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نَبِيِّكَ مُحَمَّدٍص»

نور به دواړه لاسونه ښکته کوي، د حجر اسود استلام به وکړي، او که فرصت ؤ نو حجر اسود به داسې ښکل کړي، د دواړو لاسونو ورغوي به په حجر اسود ږدي، مخ او وچولی به يې منځ کې ږدي، بيا به حجر اسود په قراره په ادب او تعظيم مچ کړي.

او که چيرې بيروبار ؤ نو د حجر اسود استلام به وکړي، يعنې دواړه لاسونه به تر غوږو اوچتوي، د لاسو ورغوي به مخامخ حجر اسود ته خواته او د لاسونو شا به مخامخ خپل ځان خواته کوي، داسې خيال به کوي چې ځما لاسونه پر حجر اسود باندې ايښودل شوي، بيا به دا دعا ولولي «اَللّٰه اَكْبَر لَا اِلَهَ اِلَّا اللّٰه وَالحَمْدُ لله وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَام عَلَى سَيِّدِنَا مُحَمَّد(ص)» يا به خاص دا ووايي «بِسم الله والله اَكْبَر وَللّٰهِ الحَمْد» بيا به خپل لاسونه پورته کړي د بيت الله د دروازې ښي خواته به طواف شروع کړي؛ که چيرې حاجي طواف قدوم پسې سعيه نه وه کړې، په دې طواف کې به اولو درې پيرو کې (رمل) وکړي، اضطباع يې که وکړه يا يې ونه کړه، فرق نلري. طواف کې به حطيم شريف راولي، کله چې رکن يمانې ته ورسيده په رکن يماني به خپل دواړه لاسونه يا يو ښي لاس ږدي، او که چيرې بيروبار وو تيريږي به، رکن يماني ته نه لاس اوچتول شته او نه به اشاره ورته کوي.

کله چې حاجي حجر اسود ته ورسيده، تنها به حجر اسود ته استلام کوي، لاسونه به نه ورته اوچتوي دا ځکه چې لاسونه يې اول وارې اوچت کړيدي، بيا د لاس اوچتولو ضرورت نشته. بيا به حاجي د اول چکر غوندې (۷) چکرونه پوره کړي، په (۸) وار به د حجر اسود استلام وکړي.

مقام ابراهيم خواته به روان شي، دا دعا به ووايي: (وَالتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اِبرَاهِیمَ مُصَلًّی ) د مقام ابراهیم او بیت الله منځته به ځي هلته به دوه رکعته نفل داسې ادا کړي، په اول رکعت کې پس د الحمدلله نه د (قل یاایها الکافرون) سورت، او په دوهم رکعت کې الحمدلله پسې (قل هوالله احد ) سورت ووایي؛ که چیرې هلته بیروبار ؤ خپل نفل به د حطیم شریف داخل کې او که هلته بیروبار ؤ د بیت الله هر ځای چې فرصت وي هلته به یې ادا کړي. د نفلو وروسته به دا دعا چې خپله آدم(ع) لوستلې وه ووایي: (اَللّٰهُمَّ اِنَّک تَعْلمُ سِرِّی وَعَلانِیتی فَاَقْبِلْ مَعذَرَتِی وَتَعْلَمْ حَاجَتِی فَاَعْطِنِی سُؤالِی وَتَعْلَم مَا فِی نَفسِی فَاغْفِرْلِی ذُنُوبِی اَللّٰهُمَّ اَسْئَلُک اِیمَانًا یُباشِرُ قَلْبِی وَیَقِیناً صَادِقًا حَتَّی اَعْلمُ اَنَّه لَا یُصِیبَنِی اِلّا مَا کتَبْتَ لِی رَاضِیًا بِمَا قَسمتَ لِی یَا اَرْحَمُ الرَّاحِمِین) د دې دعا ویلو وروسته به حاجي ملتزم شریف ته ځي هلته به خپل دواړه لاسونه، سینه، مخ او وچولی په ولاړې د حرم شریف دیوال باندې جخت ږدي، خپل ښي لاس باندې به د بیت الله پرده نیسي، په ډیره عاجزۍ او کمینۍ به د خپل مولا نه د مغفرت او تقصیراتو معافي غواړي.

بیا به د حجر اسود استلام کوي، د آب زم زم خواته به ځي په درې دمو به خپلې اوبه وڅښي لږ غوندې اوبه به پر خپل ځان پاش کړي، مخامخ په قبله به دریږي دا دعا به وایي: «اَللّٰهُمَّ إِنِّی أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَرِزْقًا وَاسِعًا وَعَمَلاً صَالِحًا وَشِفَاءً مِن كُلِّ دَاء» د حجر اسود استلام به وکړي، باب صفا خواته به په چپه پښه ووځي، هلته به خپله سعیه وکړي؛ او که چیرې حاجي په طواف قدوم پسې سعیه کړي وي دې طواف کې په حاجي باندې رَمل، اضطباع او سعیه نشته، حاجي به طواف زیارت وروسته بیرته مینی شریفې ته ځي خپله شپه به مینا شریفه کې تیروي.

فایده: د طواف زیارت وروسته حاجي کولای شي چې خپلې ښځې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



جماع، مچی، لاس اچول او نور اعمال اجرا کړي، ټول ورته حلال شول.

بیا به حاجي په (۱۱) تاریخ د زوال وروسته، د درې واړو جمرو (د شیطانانو) رَمې داسې وکړي، اول به اول شیطان بیا به منځنی شیطان وروسته به آخرنی شیطان هر یو په ترتیب سره (۷) او (۷) شګې ولي.

د اول شیطان په ویشتلو به لږ مخکې مخامخ په قبله دریږي، لاس به پورته کوي خپله دعا به کوي. همدارنګه د دوهم شیطان په ویشتلو کې به هم مخامخ په قبله دریږي خپله دعا به کوي، لیکن د دریم شیطان په ویشتلو کې به دعا نه کوي.

همدارنګه په (۱۲) تاریخ درې واړه ډلي یا شیطانان د پخوا په شان ولي، بیا به مکې شریفې خواته حرکت په عاجزۍ سره وکړي، کله چې حاجي د مَحصب وادي ته چې د مینا شریفې او بیت الله تر منځ قرار لري، ورسیده هلته به خپل د ماسپښین، مازدیګر، ماښام او ماخوستن مونځونه وکړي. لږ غونډې استراحت به وکړي، بیا به مکې شریفې خواته حرکت وکړي؛ او که چیرې حاجي د محصب وادي کې حصار نشو، هم فرق نلري حج یې وشو، کوم فرق پکې نه راځي. حاجي به نور خپل طوافو، زیارتو او عمرو ته مکه شریفه کې ادامه ورکوي، لیکن حاجي به خپلې عمرې د (۱۳) تاریخ وروسته کوي.

بیا به تر طواف وداع پورې حاجي مکه معظمه کې خپل عبادتونه او طوافونه کوي، کله چې حاجي د حج د مراسمو وروسته وطن ته د واپس کیدو قصد وکړي، حتمي به طواف وداع چې یوه واجب طریقه ده، کوي به یې. او که چیرې حاجي طواف وداع ونه کړي په کفاره کې د حاجي خپله خوښه چې دَم ورکوي او که احرام تړي، اول به خپله عمره وکړي بیا به طواف وداع وکړي؛ او که چیرې حاجي طواف زیارت وروسته نفلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



طواف کړی وي هغه هم د طواف وداع ځای نیسي، ولو که نیت یې هم نه وي کړی.

د طواف وداع بهترینه طریقه داسې ده:

حاجي کله چې طواف وداع تکمیل کړو او دوه رکعته نفل د مقام ابراهیم یې ادا کړو، د آب زم زم اوبه یې وڅښلې، دعا یې وکړه بیا به ملتزم شریف ته ځي، هلته به خپله سینه دواړه لاسونه، مخ او وچولی د بیت الله په دیوال جخت په ولاړې چسپوي، ښی لاس به پورته کوي د بیت الله پرده به داسې نیسي لکه چې غلام د خپل بادار لمن نیسي، په ډیره عاجزۍ به د خپل مولا نه د مغفرت او تقصیراتو غوښتنه کوي، د حجر اسود استلام به کوي، کعبې شریفې ته به د حسرت او امید په سترګو ګوري، د خپل ځان او ټولو مسلمانانو په حق کې به دعا کوي، او که یې خپلې اوښکې تویې کړې دا یوه بهترینه طریقه ده.

یادونه: که چیرې په دې وخت کې ښځه د حیض او نفاس حالت کې وي، د طواف وداع نه خلاصه ده، طواف وداع به نه کوي.

## د حج فرائض

د حج فرائض درې شیان دي، ۱) د احرام تړل، ۲) وقوف د عرفات، ۳) او طواف زیارت دی. که له دې درې شیانو نه حاجي یو هم ادا نکړي، حج یې باطل دی، د حج اعاده پرې فرض ده.

۱) په احرام تړلو کې د حج نیت، تلبیه ویل، نفل کول په اخلاص سره دي.

۲) په عرفات کې وقوف دی، یعنې نهم د ذوالحجې د زوال نه پس له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسم د ذوالحجې د صبح صادق پورې څه وخت چې عرفات کې وي، اګر که د لږ ساعت لپاره وي.

۳ ) طواف زيارت دی، چې د ذوالحجې د لسم تاريخ د صبح صادق نه د دولسم د ذوالحجې پورې پدې منځ کې د سر د تراش نه يا د تقصير نه پس کيږي، نو که د دې درې واړو نه يو هم ترک شي حج يې باطل دی، تلافي يې په دَم يا بل شي نه شي کيدای.

## د حج سنتونه دا دي

۱ ) په طواف کې د اوږو پورته پورته اچول، او قدمونه په پهلوانۍ اخيستل دي، ليکن ښځې به په عادي حالت رفتار کوي.

۲ ) همدارنګه په صفا او مروا کې د يوې شنې ميلې نه تر بلې شنې ميلې پورې مردانه خپل قدمونه استوار اخلي اوږې پورته پورته اچوي، او ښځې به په عادي رفتار ځي.

۳ ) د اختر اوله، دوهمه او دريمه شپه تيرول دي په مينا شريفه کې، د ضرورت حالت کې حاجي کولای شي چې استوګنځي کې هم تيرې کړي، ليکن اهم شرط دا ده چې حاجي به د جُمرو ويشتلو لپاره مينا شريفې ته ځي، خپله واجب طريقه به اجرا کوي؛ او که يې اجرا نه کړي دَم پرې واجب کيږي.

۴ ) د مزدلفې شريفې نه د لمر ختلو مخکې، مينا شريفې ته حرکت کول دي؛ او که چيرې د کوم عذر پواسطه د لمر ختلو وروسته وشي فرق نه لري.

۵ ) د مينا شريفې نه د سهار مانځه وروسته، د عرفات خواته حرکت کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶) د وقوف لپاره شپه تیرول په مزدلفه شریفه کې، دا هم یوه سنت طریقه ده.

۷) په ترتیب سره د شیطانانو ویشتل هم سنت طریقه ده.

دا پورته اوه شیان د حج سنت طریقې دي، چې پورته په اوو مادو کې شرحه شول.

## د حج مستحبات

۱) د حج د تلو نه مخکې د قرض ادا کول.

۲) د تکبر او ریاکارۍ نه خپل ځان ساتل دي.

۳) د حلالې نفقې پیدا کول دي.

۴) د سفر لپاره نیک او ښه ملګری پیدا کول.

۵) همیشه خپل وخت د الله(ج) په ذکر باندې تیرول دي.

۶) د بیهوده او فضول خبرو نه ځان ساتل.

۷) د حج وخت کې د تجارت نه ځان ساتل.

۸) د قهر او غصې نه خپل ځان ساتل.

۹) د حج د تلو وخت کې په کور کې دوه رکعته نفل کوی.

۱۰) د مکې شریفې داخلیدو مخکې غسل کول دي.

۱۱) ښځه به د حیض او نفاس وخت تل تلبیه وایي.

۱۲) حرم شریف ته په ښي پښه داخلیدل دي.

۱۳) په مقدسو مقاماتو کې دعا کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ټولې مستحبې طريقې دي.

## د دعا د قبليدو مقامونه

۱) مکې شريفې ته مخامخ دريدو وخت کې دعا قبليږي.

۲) حجر اسود ته مخامخ دريدو وخت کې.

۳) د حطيم شريف منځ کې.

۴) مقام ابراهيم کې د نفلو ادا کولو وروسته.

۵) ملتزم شريف کې.

۶) په رکن يماني کې د لاس ايښيدو وخت کې.

۷) د آب زم زم څښلو وخت کې.

۸) د صفا او مروا د غونډيو پر سر د دعا کولو وخت کې.

۹) په وقوف د عرفات کې دعا قبليږي.

۱۰) په وقوف د مزدلفې شريفې کې.

۱۱) د شيطانانو ويشتلو وخت کې الله(ج) دعا قبلوي.

فايده: ۱) دا چې يو حاجي د فرضي حج، نفلي حج يا عمرې ادا کولو په خاطر مکې شريفې ته ځي، نو اول پاک نيت، اخلاص او صداقت ورته ضروري دی.

۲) حاجي بايد اول خپل ځان پوه کړي او د حج مناسک ټول لکه فرض، واجبات، سنت او مستحبات او نور نيک اعمال پوره پر ځان عملي کړي.

۳) داسې نه چې درنه خرچه وکړي، زحمتونه او مشکلات وګالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدانخواسته هغه ټول عبث وګرځي.

## په هغو شيانو چې دَم واجب ګرځي

۱- وقوف د عرفات دی، چې د عرفې د ورځې د زوال وروسته شروع کيږي تر لمر لويدلو پورې طول ورکول کيږي، خپله وقوف د عرفات فرض ده، تر لمر لويدو پورې طول ورکول واجب دي. په وقوف د عرفات کې تل تلبيه، تسبيح، تهليل او ثناء د الله(ج) ويل کيږي.

او په ډيره عاجزۍ، زارۍ به دعا، درود شريف وايي؛ نو که چيرې حاجي د لمر لويدو مخکې د عرفات له حريم نه ووځي، دَم پرې واجب ګرځي. (يعنې يو پسه به حلالوي)

۲- وقوف د مزدلفې شريفې دی، چې دا وقوف واجب طريقه ده. د امام اعظم(رح) په نزد له طلوع د فجر نه تر طلوع د لمر پورې دوام کوي. که چيرې حاجي له طلوع فجر يا مخکې د سهار د آذان نه، د مزدلفې شريفې د حريم نه ووځي دَم پرې واجب ګرځي. او که چيرې د کوم عذر په خاطر ووت او طلوع فجر نه مخکې بيرته راغی، دم پرې نه واجبيږي، همداسې د مريض، ضعيف او ښځې لپاره جواز لري چې پخوا د آذان نه مينا شريفې ته ولاړ شي.

۳- کله چې حاجي پخوا له وقوف د عرفات نه جماع وکړي، داسې حالت د نر او ښځې دواړو حج باطل ګرځي، نور افعال د حج به نورو حجاجو غوندې کوي ليکن د حج اعاده پرې فرض ده.

۴- همدارنګه که حاجي پس له وقوف د عرفات نه، پخوا له تراش د سر نه او پخوا د طواف زيارت نه جماع وکړه، حج يې نه باطل کيږي بلکې په نارينه او ښځه دواړو د يوه پسه ذبحه واجب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- حاجي که جماع نه بغیر لکه مچول، د فرج لمسول، مستي کول په شهوت سره، که انزال وشي یا ونه شي، هغه که پخوا د وقوف نه وي یا پس د وقوف نه وي، داسې وخت کې حج یې نه فاسد کیږي لیکن دم پرې واجب ګرځي.

۶- که حاجي د احرام موده کې یوه شپه یا یوه ورځ مکمل ګنده شوې جامې واغوندي دَم پرې واجب ګرځي؛ او که د یوې شپې یا یوې ورځې نه کم یې واغوندي دَم پرې نشته، لیکن صدقه پرې واجب ګرځي.

۷- که حاجي خپل سر، او ښځه خپل مخ د احرام حالت کې یوه ورځ یا یوه شپه مکمل پټ کړي، دَم پرې واجب شو؛ او که چیرې د یوې شپې او یوې ورځې کم پټ کړي نو صدقه پرې واجب ګرځي.

۸- که حاجي د خپل لاسونو او پښو ټول نوکان واخلي، یا تنها د دوارو لاسو یا دوارو پښو نوکان واخلي دم پرې واجب ګرځي؛ او که چیرې حاجي د لاسونو نوکان یوځای او د پښو نوکان بل ځای واخلي داسې حالت کې دوه دَمونه پرې واجب ګرځي؛ او که چیرې یې د یوې یا دوو یا درې ګوتو نوکان واخیستل داسې حالت کې صدقه پرې واجب ګرځي، دَم پرې نه واجبیږي.

۹- د خوشبویۍ استعمالول په بدن یا جامو باندې دَم واجب کوي.

۱۰- په سر، لاسونو، ږیرې که نکریزي حاجي ولګوي، نو پوره دَم پرې واجب ګرځي.

۱۱- که یوه حاجي د بل حاجي سر د احرام حالت کې تراش کړي، دَم پرې نشته بلکې صدقه به ورکوي.

۱۲- که حاجي درې ورځو پورې خپل سر تراش نکړي او ځلورمه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې داخله شي، دَم پرې واجب ګرځي.

۱۳- که حاجي د احرام حالت کې کارغه، باښه، مار، لړم، مچۍ، موږک، میږی. خسکه، وربه او نور مضر شیان ووژني، حاجي باندې هیڅ جزا نشته؛ لیکن د سپږې په وژلو یو موټی خوراکه شیان صدقه ورکوي، او که یې مچ او میاشی مړ کړو نو هر یوه باندې یوه خرما صدقه واجب شوه.

۱۴- که حاجي په دې فکر چې ځما قرباني شوېده، خپل سر یې تراش کړ او ښځې خپلې کوڅۍ قیچي کړې او د دوی قرباني شوې نه وه، دَم پرې نشته بلکې داسې حالت کې به نسک ته ګانه لکه ذبحه، یا درې ورځې روژه نیول، یا به شپږو مسکینانو ته طعام ورکوي.

۱۵- که نارینه قصداً خپل سر تراش کړو او ښځې قصداً خپلې کوڅۍ قیچي کړې، داسې حالت کې دَم پرې واجب شو.

۱۶- که حاجي د احرام په حالت کې د بغل یا فرضو ویښتان تراش کړل یا یې وشکول، دَم پرې واجب ګرځي.

۱۷- که حاجي د سر، پوزې یا ږیرې ویښتان وشکول یا یې وګرول او هغه توی شول، دَم پرې نشته بلکې د هر ویښته مقابل کې به یو موټی خوراکي شیان لکه جوار، اوړه، وریجې یا بل شی صدقه ورکوي.

۱۸- که حاجي د صفا او مروا سعیه ونه کړه، نو دَم پرې واجب ګرځي، حج یې کیږي فرق نه پکې راځي.

نوټ: حاجي به د احرام حالت کې ږیره په اوداسه کې نه خلالوي، خلالول ورته مکروه عمل دی.

نوټ: په صدقه کې به حاجي اول درې روژې نیسي، یا به ۶ مسکینانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته طعام ورکوي.

## د مدينې منورې او د نبي کريم(ص) زيارت کول

خپله نبي کريم(ص) فرمايلي چې څوک ځما جومات کې څلويښت مونځونه پی در پی بېله قضايي نه ادا کړي د هغه شخص لپاره جنت واجب شو، او د دوزخ د اور نه بچ شو. او دا يوه مستحبه طريقه ده.

کله چې حاجي مدينې منورې خواته حرکت وکړي، درود شريف به ډير وايي، کله يې چې په مدينه منوره سترګې ولګيدې نو درود شريف او (اَلصّلاةُ اَلسّلَامُ عَلَيكُم يَا رَسُولَ اللّه) زيات وايي. کله چې مدينې منورې ته ورسيده، حرم شريف ته به د باب سلام په دروازه په ښي پښه داخل شي، دفعتاً به دوه رکعته نفل د نبوي مسجد شريف ممبر سره چې ښی اوږه يې د ممبر د ستنې خواته وي، د ممبر او مقبرې ترمنځ چې دا ځای د رياض الجنة يعنې د جنت د باغچو يوه باغچه ده، دلته به نفل ادا کړي.

بيا به د نبي کريم(ص) د قبر پر سر مخامخ په قبله دريږي او د نبي کريم(ص) مبارک صورت به مخکې راولي، داسې فکر به کوي چې نبي کريم(ص) په مبارک خوب ويده دی، او ځما خبرې اوري؛ او که څوک له لرې نه په نبي کريم(ص) درود شريف وايي ډايرک هغه مقرر شوې ملايکې نبي کريم(ص) ته رسوي.

بيا به د حضرت ابوبکر صديق (رض) او حضرت عمر(رض) د قبر خواته دريږي، ځي دعا به ورته کوي، سلام به پرې هم وايي چې دا يوه مستحبه طريقه ده. که چيرې حاجي ته چا دَين ورپه غاړه کړی وي چې ځما سلام به پر نبي کريم(ص) رسوې، حاجي به (الصلاة السلام عليکم يا رسول الله) ووايي، چې فلاني شخص د فلاني ځوی پر تاسو سلام ويلی او له تانه يې د شفاعت غوښتنه کړې ده، او زه هم له تانه د خپل ځان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو مسلمانانو شفاعت غوښتونکی یم.

په څنګ کې د مسجد اقصی، مسجد الحرام، مسجد نبوي، د جنت البقیع د شهداوو، د احد د شهداوو، د مسجد قبا، مسجد قبلتین، د حضرت عثمان، حضرت حسن، امیر حمزه، حضرت عباس (رضی الله عنهم)، د ازواج مطهراتو (رضی الله عنهن) او نورو شهیدانو زیارت کول مستحبه طریقه ده.

حدیث شریف: نبي کریم(ص) فرمایلي چې حج او عمره د بل حج او عمرې پورې کفاره د ګناهونو ده، او محوه کوونکې د ګناهونو ده.

بل حدیث شریف: نبي کریم(ص) فرمایلي چې حج کوونکی او عمره کوونکی د الله(ج) محبوبان دي، هرڅه چې وغواړي هغه ورکوي.[1]

---

[1] ابن ماجه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**